# تېرل شوې کڅوړه ◦

په تېزۍ سره مېز په سوک ووهل شو، پښې یې اوخوځېدې، چوکۍ یې شاته کړه، له ځایه پورته شو او په لوړ غږ یې وویل:
-ولې خاندئ؟
ټولو سرونه لاندې ځوړند ونیول او چوپه چوپتیا شوه. هلک په بېړه د سړي له مخې تېر، د سپینې لرګینې دروازې خوا ته روان شو. در وازهیې په تېزۍ سره بنده کړه، اوږ صالون کې یې منډه واخیسته او باندې انګړ ته ووتلو.
ښه وخت وروسته د ښونځي زنګ ووهل شو. زیاتره زده کونکي له ټولګیو ووتل خو ځینې بیا په خپلو چوکیو او ټولګیو کې ناست ول.
هلک د ښونځي په انګړ کې په لویه ډبره، سر ځوړند، خفه ناست وو. د یو څو شیبو وروسته د هلک مخې ته د دوو بنیادمو سیورې جوړ شو. هلک پاس وکتل ګوري چې دوه کوچني ماشومان یې مخې ته ولاړ دي. ماشومانو یو بل ته وکتل او د یو ماشوم شونډې وخوځېدې او په خشکه یې هلک ته وویل:
-ستا نوم همایون دی؟
-هو، زما نوم همایون دی خو ولې؟
ماشوم په لاس باندې د ادارې خوا ته اشاره وکړه او ویې ویل
Ketabton.com
-هااغلته درته استاد ولاړ ده. موږ یې را واستولو تر څو ته هلته ورشې. هلک له ډبرې پورته، څادر (کتره) یې له ځان سره واخیسته او د ادارې خوا ته روان شو....
هلک ادارې ته ورسیدو او د دروازې مخې ته لکه نادیده شاوخوا یې کتل. د ادارې دروازه خلاصوه وه، ناڅاپه یو استاد په هلک غږ کړ:
-راځه همایونه! ما را غوښتی یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلک ادارې ته ننوت او دروازه يې بنده کړه. په اداره کې د ښوونځي ټول ښوونکي ناست ول.ځينو ښوونکو د چايو پيالې په لاسونو کې نيولې وې او ځيني بيا له خپلو موبايلو سره مصروف ول. هلک له هر يوه ښوونکي سره ستړي مشې وکړه. په يو کاوچ (چوکۍ) باندې دو هاستادان د نورو دريو استادانو ته مخامخ ناست ول، دوی سره اوخوځيدل تر څو په کاوچ کې د کيناستو ځای پيدا شي. استاد هلک ته په کاوچ کې د کيناستو اشاره وکړه او هلک د دوو ښوونکو، ښي خوا کيناست. دروازه ټک ټک شوه، ټولو استادانو سترګې دروازې ته شوې. په دروازه يو پوخ عمرـ لرونکی کس چې سپينه خولی او توره ګيره يې لرله، ادارې ته را داخل شو. سړي د سلام ويلو وروسته د استادانو له مخې تېر او هلته کيناستو، چيرته چې بايد يو سرمعلم کېني. سرمعلم خپل موبايل او بټوه په ميز کيښودل او هلک ته يې وويل:
-زويه ته دلته څه کوې؟
د هلک مخې ته يو ناست استاد چې کورـ يې پيښور کې دی خو دلته ته دريس ورکوي، په بېړه وويل:
-سرمعلم صېب، دغه هلک مورـ راغوښتی.
-ما نن په نهم ټولګي کې زده کونکو ته درس ورکولو چې دې هلک پسې نورو شاګردانو وخندل او دغه هلک له صنفه د باندې په ژړـلـو وتلو. فکر کوم د همايون نن دوهمه ورځ ده چې دلته دولتي مکتب ته راغلی...
سرمعلم په حيرانۍ ټولو استادانو ته وکتل او بيا يې هلک ته په خشکه وويل:
- زويه! نورو ملګرو دې ولې در پسې خندل؟
هلک يو وار سرمعلم صېب ته وکتل او بيا يې سترګې پيښوري استاد ته واړولې. پيښورۍ استاد ورته د سترګو په اشاره اجازه ورکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هر څه ووېي.
هلک سر لاندې ځوړند کړ او شونډې یې اوخوځیدې:
- ما مخکې په یو شخصي مکتب کې درس ویلو، پلار به مې خپله وظیفه کوله او زه به یې نه پریښودم چې کار وکړم. پلار به مې تل په دېټنګار کولو چې زه په یو شخصي ښونځي کې زده کړې وکړم تر څو په آینده کې یو ښه شخص جوړ شم.
سرمعلم صیب! ته پوهیږې چې‌شخصي مکاتب څه ناڅه ښه او معیاري دي نسبت دولتي ښونځیو ته خو اوس چې مې پلار زموږ سره دلته نشته نو زه مجبور شوم چې دولتي مکتب کې داخله وکړم. نو نن ورځ په ټولګي کې زما جامې (کالي) شکیدلي وو نو زموږ همصنفیانو راپسې خندل.

سرمعلم ښوونکو ته وکتل چې دوی ټول هلک ته په حیرانئ ګوري او وروسته سرمعلم هلک ته مخ ور واړوه او ویې ویل:
-پلار دې چې له تاسو سره نه دی، نو د چا سره دی؟
د هلک له خولې خبره را ووته:
-پنجابیانو سره!!
ټولو یو او بل ته وکتل، له دې چې سرمعلم کومه خبره وکړي، پیښوري استاد وار مخکې کړ:
-څنګه له پنجابیانو سره؟ همایونه!
هلک پیښوري استاد ته سترګې ونیولې او ویې ویل:
-دا ډېره لویه خبره ده خو خېر....
-پلار به مې دلته له دولت سره دنده کوله او زموږ اقتصاد به څه ناڅه ښه وو. زموږ ټول وروڼه او خویندې به ښونځیو ته تللو، شپې او ورځې به مو په خوشحالئ تیرولې.
-یوه ورځ زموږ پلار دې ته اړ شو چې د خپلې درملنې لپاره باید

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاونډي هېواد پاکستان ته لاړ شي تر څو هلته يې تداوي وشي.
د طورخم په لاره کې له يو کس سره ملګرى شو. له هغه کس سره دوه کوچني بيکونه (بکسونه) او يوه تړل شوې کڅوړه وه. دې کس دغه تړل شوې کڅوړه زموږ پلار ته ورکړه، تر څو يې هغه بلې غاړې ته واړوي. زما پلار سره دومره زيات شيان د وړلو نه ول نو ځکه يې د هغهملګري خبره رد نه کړه او کڅوړه يې ترې را واخيسته.
زما پلاراو د هغه نوى ملګرى د بکسونو او د شيانو د ليدو(چيکولو) ځاى ته ورغلل ترڅو پاکستاني پوليس د دوى شيان اوګوري.
دملګري دوه بيکونه له ماشين څخه تېر شول او هغه ته يې د تللو وويل او ملګرى يې لاړ. زما پلار، لاسي بکس له ماشين څخه تېر کړو خو د تړل شوې کڅوړې په تيريدو سره ماشين سره علامه (نښه) روښانه کړه او ماشين زنګونه شروع کړل. پنجابي عسکر زما پلار له لاسه ونيواو يوې خوا ته يې کړ. بل پاکستاني پوج تړل شوې کڅوړه را واخيسته او ويې کتل چې دې تړل شوې کڅوړي کې چرس او مخدره مواد دي. پلار مې ډېر ځلې ورته د هغه بل کس يادونه وکړه چې دغه کڅوړه د هغه ده. خو پنجابي پوليسو زما د پلار خبره نه منله او هغه يې دپېښور يوې لويې تهڼې (حوزې) ته روان کړ.....
هلک غټ اسويلى وويست او په خشکه يې وويل:
- موږ ډېره هڅه وکړه، تر څو پلار مو آزاد شي خو هيڅ مو وه نه کړاى شواى. پلار مې دوه کاله کيږي چې د پنجاب د نظر لاندې د توروتنبو شاته شپې سبا کوي.
- کله نه چې مې پلار د پنجاب له خوا بندي شوى نو زه مکتب ته نه يم تللى او ما توله ورځ او وخت کار کولو تر څو په خپلو خويندو او ورونو باندې تعليم وکړم. خو زموږ ترونه دې ته نه حاضرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زما خویندې دې ښونځي ته لاړې شي. یواځینۍ پلار به مې وو
چې د هغه په شتون کې به هم ما او هم مې خویندو او وروڼو تعلیم
کولو. اوس مې فیصله کړې تر څو زه خپلې پاتې زده کړې بېرته
بشپړې کړم.
سرمعلم چې خوله خبرو ته جوړوله، نو د ښونځي زنګ ووهل شوو.
ټول ښوونکي له ځایه پورته شول، تر څو خپلو خپلو ټولګیو ته د
تدریس لپاره لاړ شي خو یواځې پیښوریۍ استاد په اداره کې
پاتې شو.
پیښوري استاد هلک ته نیږدې راغیۍ ملا کې ورته ټیټ شو او ویې
ویل:
- همایونه! د هغې تهڼې (حوزې) کوم ادرس یا د چا نمبر لرې چې
کومه کې ستا پلار بندي دی؟
هلک ورته هر څه ورکړل/وویل په څه چې هغه پوهیده.
ښه شیبه وروسته پیښوريې استاد موبایل غوږ ته ونیو او د ادارې له
وتلو سره یې په موبایل کې وویل:
-سلام علیکم تهانې دار صیب!
د پیښوري استاد آواز نور ادارې کې ناستو کسانو نه شو اوریدلی...
.
سرمعلم له ځایه پورته شو، خپله بټوه او موبایل یې را واخیستل او
هلک ته یې وویل:
- ځه زویه ته نن کورـ ته وختي لاړ شه. زه دې له استاد سره خبرې
کوم.
- خو......
- خو او مو دې نه منم. ته نن رخصت یې. او بله دا چې، پیښوری
استاد زه پیژنم هغه په پیښور کې ډېر پیژندګلوي لري. ګوره اوس
یې یو لوی کس ته زنګ ووهلو. ان شاءالله چې ستا پلار به د پنجاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

له زندانه آزادېږي.....
سرمعلم او هلک له اداري څخه بهر او په لوی صالون کې روانې وو تر څو د هلک ټولګي ته ورشي.
څه شیبه وروسته هلک خپله بکسه را واخیسته او د ښونځي له لویې دروازې بهر شو. هغه څو قدمونه نه وو اخیستي چې موبایل یې وټنګیده. هلک د کوچني موبایل په شنه بټن ګوته ټینګه کړه او غوږ ته یې ونیو:
-هلو!
-همایونه! زه یم، پلار دې.
-بابا!!!!!!!!
-هو زویه، زه له بنده آزاد شوم.......
هلک له خوشحالۍ څخه ټوپونه وهل شروع کړل. هغه یوې او بلې خوا ته کتل چې سترګې یې په پیښوري استاد ولګیدې او په ژړاغونې غږیې ناره کړه.
-استاده!!!
پیښوري استاد چې لاس کې یې وړوکی موبایل وو، د ښونځي له لویې دروازې سره، چې خپل چپ مټ یې له دیوال سره لګولی وو، ولاړوو...........
پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**